لومړۍ کچه

# احمد د شکلونو خیړونکی



لیکوال: آدیتیا سومیناتن
انځورګر: جیما جوس

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .

سحر احمد ته وايي: اوس ستا نوبت دی. ته ونې ته وخيژه. احمد ونې ته پورته ګوري او وايي: ښه ده، زه ونې ته پورته کيږم. موسکا له لاندې غږ پرې وکړ: هغه توپ وينې؟ خو يو بل څه د احمد پام ځان ته واړاوه.





احمد په چغه شه: دلته ګورئ، دا د مچيو ځاله ده. موسکا ورخطا شوه. " مچۍ چيرته دي؟" احمد ځالې ته په ځير ګوري او وايي: دلته ډېر غارونه دي او ټول يو ډول شکلونه لري.



احمد حیران دی: ولې د شاتو مچۍ دغه شکلونه د خپل کورونو لپاره غوره کړل؟ ولې دا شکلونه ګرد نه دي؟ هغه په دې سوچ کې دی چې د دوی کورونه ګرد یا دایروي دي. خو د هغه ذهن به په دې اړه کار ونکړي.

بیا په بله ورځ احمد خپلو ملګرو ته وايي: د شاتو مچۍ ډېرې اوښیارې دي. احمد د هغوی په اړه مطالعه کوي. هغوی د خپلو کورونو لپاره ته تر ټولو ښه شکلونه جوړ کړي دي. شپږ ضلعي شکلونه چې یو له بل سره ښښتي دي او په منځ کې یې هیڅ کوم سوری یا خالي ځایونه نشته. دغه شکلونه لکه د قالبي لوبو سامانونه داسې منظم دي. د دوی د ریاضي استاد دوستوخان هغوی ته غوږ نیولی ؤ او هغه وویل: شپږ ضلعیاني مچیو ته ډیر کورونه برابروي. احمد و پوښتل: دوی دا شکلونه څنګه زده کړل؟ استاد دوستوخان په موسکا ډکه خوله وویل: شکلونه هر ځای کې شته.



یوه ورځ احمد مارکیټ کې د میوو او سابو شکلونو ته په ځیر کتل. هغه د اناناسو پوټکي او د نارنجو منځ ته کتل چې هر یو بیل بیل شکلونه لري. په مارکیټ کې ډول، ډول اندازې، رنګونه، او ... د میوو او سبو ایښې دي، خو احمد یوازې شکلونو ته ګوري. هغه حیران دی: آیا شکلونه په هر ځای کې شته؟






احمد د شکلونو په اړه څېړنه کوي.

بله ورځ احمد خپلو ټولګیوالو ته وايي: په نړۍ کې ډېر شیان شته چې یو ډول شکلونه لري.

استاد دوستوخان وايي: مونږ هم په انساني نړۍ کې ډېر تکراري شکلونه کاروو. او زیاته یې کړه: ولې تاسې یو څه نه جوړوئ چې شکلونه پکې کارېږي، دغه کار ستاسو کورنۍ دنده شده.

احمد وايي: مونږ کوم شکلونه وکاروو؟
استاد دوستوخان په تخته ورته لیکي: هر شکل چې ستاسو خوښ وي.





احمد په کور کې د خپلې کورنۍ دندې په اړه فکر کوي. هغه په دې فکر کې دی چې ولې خپل کور له مربعو او یا له مثلث دوله شکلونه جوړ نکړي.

هغه د استاد دوستوخان په خبره سوچ کوي. ” شکلونه هر ځای شته.“ بیا یې د شکلونو په پلټلو پیل وکړ.



هغه چې هر څه کتل یو شکل یې په ذهن کې جوړېده، لکه: غالۍ، د کتابو الماری، کړکۍ. احمد په فکر کې شه او له ځان سره وایي: یواځې د شاتو مچې ډېرې اوښیارې نه دي. مونږ د ډېرو شیانو لپاره شکلونه کارولی شو.

احمد د خپلې خوښې کور جوړولو رسامۍ باندې کار کوي. سرې مربع شکلې خښتې. د کور په منځ کې څلور کنجه کاشیانې کوم ډول چې د هغه د نیا په کور کې کارول شوي دي.
څوک پوه شول چې له ساده شکلونو څخه ما ته کور، د شاتو مچیو ته کندو او تاسو ته هم یو کور جوړ کړي؟







نمونې په نښه کړئ

طبيعت د شکلونو جوړولو او يو ځای کولو ښې لارې لري.

احمد دا هر څه په خپل چاپيريال کې ويني، لکه: د اناناس بهرنۍ برخه، د نارنجو منځنۍ برخه او د شاتو د مچيو کندو ګان.

ځينې شکلونه لکه شپږ ضلعی، مربع يو له بل سره په ښه توګه نښليدلي دي چې په منځ کې يې هيڅ فاصله نشته. خو نور شکلونه لکه دايره بيا دا ډول نده. کله چې هندسي شکلونه په طبيعت کې يو له بل سره سمون ولري او په منځ کې يې هيڅ فاصله نه وي، دې ته سمون يا برابري وايي.

احمد ګوري چې انسانان هم له سمون يا برابرۍ څخه کار اخلي. مونږ شکلونه تکراروو چې شکلونه ترې جوړ کړواو له دغو شکلونو څخه کورونه، الماری او نور هنري کارنو سرته ورسوو.

د سمون ساده معنی برابري ده.





# لاربنودونکي پوښتني

1. ستاسو د خوښې شکل کوم يو دی؟
٢. ولې د شاتو مچيو لپاره شپږ ضلعي شکل نظر دايروي ته يو ښه انتخاب دی؟
٣. آيا دوه طبيعِ او دوه د انسان په لاس جوړ شوي شکلونه چې په قيصه کې ياد شوي پيژندی شئ؟
۴. آيا کولای شئ خپل شاوخوا دوه شکلونه همدا اوس په نښه کړئ؟
۵. يو کور، يو اطاق يا يوه منظره د شکلونو په کارولو سره اځور کړئ